# درې ډېر خوښ شوي صفتونه

03-June-2021



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# درې ډېر خوښ شوي صفتونه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**محترمو اسلامي ورونړو**! چې كله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي.

ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د اعتكاف نِيَّت مو كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِكاف نِيَّت هُم صرف خوراك څښاك يا اُوده كيدو د پاره كول نه دي پكار بلكه چې مقصد د **الله** تعالٰى رِضا وي.

"**فتاوىٰ شامى**" كښې دي: كه څوك جُمات كښې خوراك څښاك يا اُوده كيدل غواړي نو د اِعتِكاف نِيَّت دِ اوكړي، لږ ساعت دِ ذِكْرُ الله اوكړي بيا چې څه غواړي كوي دِ (يعني بيا كه غواړي نو خوراك څښاك كولے شي او اُوده كيدے شي)

## د دُرُود شريف فضيلت

د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: څوك چې په ورځ كښې په ما باندې

زر ځله دُرُود شريف اولولي، هغه به تر هٰغه وخته پورې نه مري، تر څو چې په جَنَّت كښې خپل مقام اُو نه ويني.[1]

نبی کی شان میں ہو جس قدر دُرُود پڑھو | مُحِبّو پاؤ گے جنت میں گھر دُرُود پڑھو[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتينے نيت بهترين عبادت دے.[3]

**اے عاشقانِ رسول:** نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ☆ چې څومره كيدے شي د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښينم ☆ د علم زده كولو د پاره به پورا بيان اورم ☆ د بيان په دوران كښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ☆ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ☆ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو كوشش كووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ...الترغيب فى فضائل الاعمال، صفحه:14، حديث:19

2 ...نورِ ايمان، صفحه:56ملتقطاً۔

3 ...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** حضرت **سَعْد** بِن ابي وقاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابي دے او دوئي په هغه لسو خوش نصيبو صحابه كرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان كښې دے كومو ته چې مالِكِ جَنَّت، قاسِمِ نِعمَت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دُنيا كښې د جنت زيرے اورولے وو. هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ ډېر بَهَادُر، ايماني جوش ساتونكے، لوئ مُتَّقي، پرهيزګار او عبادت ګزار وو. يوه ورځ حضرت **سَعْد** بِن ابي وَقاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ د خپلو څاروو پالنه كوله چې د هغوئي ځوئ عُمَر بِن **سَعْد** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ راغلو او اوئي وئيل: والد **محترمه**...! تاسو دلته د اوښانو پالنه كوئ او خلق هلته د خِلافت خبرې كوي، حضرت **سَعْد** بِن ابي وقاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ د خپل ځوئ سينه په لاس اُووهله او اوئې فرمائيل: **اُسْكُتْ** خاموشه شه....! بيا هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ يو حديث بيان كړو چې ما د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے: **اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِيَّ الْغَنِيَّ الْخَفِيَّ** بيشكه **اللّٰه** پاك تقوٰى والا، غني [يعني موړ زړه اوسيدلو والا] او ورَك [يعني غير مشهوره اوسيدلو والا] بنده سره **محبت** فرمائي.[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د الله پاك د محبوب بنده فضائل

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دا يو **مختصر** حديثِ پاك كوم چې حضرت سعد بِن ابي وقاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ خپل ځوئ ته واورولو او هغوئي ته ئې سبق وركړو چې په دُنيا كښې د مقام و مرتبے او منصب خواهش كول د فضيلت خبره نه ده بلكه تقوٰى اختيارول، غنـي [يعني موړ زړه] اوسيدل او ګمنام [يعني غير مشهوره] اوسيدل د فضيلت سبب

[1] ...مسلم، كتاب: الزہد، صفحہ: 1135، حدیث: 2965۔

دے. د دې حديثِ پاك نه معلومه شوه چې په كوم بنده كښې دا درې اوصاف وي، هغه د **الله** پاك محبوب بنده جوړيږي.

د دې دريو اوصافو جدا جدا وضاحت كولو نه مخكښې **دوه مدني ګلونه** په ذِهن كښې اچول پكار دي:

**وړومبے مدني ګل:** دا چې د **الله** پاك د بنده سره د محبت كولو مطلب څه دے؟ **حُجَّةُ الْاِسْلَام**، امام محمد بِن محمد غزالي رَحْمَۃُاللهِ عَلَيْه د دې مطلب دا بيان كړے دے چې د **الله** پاك د خپل بنده سره محبت دا دے چې **الله** پاك د خپل بنده د پاره د خپل قُرب [يعني نزديكت] دروازے بيرته كړي. (1)

**دويم مدني ګل:** هغه دے، **د بنده الله پاك سره محبت كول.** دا هم د غټ فضيلت خبره ده، ډيره د شان او عظمَت خبره ده خو د دې نه زياته د فضيلت او شان خبره دا ده چې **الله** پاك د خپل بنده سره محبت اوكړي. بنده خو بنده دے، بنده دِ د خپل خالِق او مالِك سره محبت كوي، د خپل ربّ سره، خپل رازق سره دِ محبت كوي، دا د بنده په ذِمّه حق جوړيږي خو **الله** پاك چې هغه ربّ دے، خالق دے، مالِك دے، چې هغه د خپل بنده سره محبت اوكړي نو دا زياته د فضيلت او شان خبره ده.

په "بُخاری شريف" كښې يو حديثِ قُدسي دے، **الله** پاك ارشاد فرمائي: **مَا يَزَالُ عَبْدِیْ يَتَقَرَّبُ اِلَیَّ بِالنَّوَافِل** هميشه بنده د نوافلو په ذريعه زما قُرب حاصلوي، حاصلوي **حَتّٰی اُحِبَّهٗ** تر دې چې زه (**الله** پاك) د هغه سره محبت كول شروع كړم، **فَاِذَا اَحْبَبْتُهٗ** پس چې كله زه د هغه بنده سره محبت كووم، **كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِیْ يَسْمَعُ بِهٖ** زه د هغه غوږونه شم چې هغه په هغې اوري، **وَ بَصَرَهُ الَّذِیْ يُبْصِرُ بِهٖ** زه د هغه سترګې شم چې په هغې ليدل كوي،

---

[1]...احیاء العلوم، جلد:5، صفحه:105۔

وَيَدَهُ الَّتِيْ يَبْطِشُ بِهَا د هغه لاس جوړ شم، چې په هغې هغه نيول کوي، وَرِجْلَهُ الَّتِيْ يَمْشِيْ بِهَا او د هغه ښپې جوړ شم چې په هغې هغه تلل کوي،(1) او په يو روايت کښې دي: وَفُؤَادَهُ الَّذِيْ يَعْقِلُ بِهٖ زه د هغه زړه جوړ شم چې په هغې هغه سوچ کوي، وَلِسَانَهُ الَّذِيْ يَتَكَلَّمُ بِهٖ او د هغه ژبه جوړ شم چې په هغې خبرې کوي، اِنْ دَعَانِيْ اَجَبْتُهٗ که هغه بنده زما نه دُعا اوغواړي نو زه د هغه دُعا پورا کووم، وَاِنْ سَاَلَنِيْ اَعْطَيْتُهٗ او که زما محبوب بنده زما نه د څه څيز سوال اوکړي نو زه ئې ورته عطا کووم.(2)

اے عاشقانِ رسول! د دې حديثِ پاك مطلب دا نه دے چې مَعَاذَ الله الله پاک ګنې د بنده په بدن کښې حلُول [يعني شامليدل] کوي، نه، نه، داسې هيڅ کله نه ده، د حديثِ پاك يو مطلب کوم چې عُلمائے کرامو بيان کړے دے، هغه دا دے چې کله الله پاك د بنده سره محبت کوي نو هغه ته خپل قُرب [يعني نزديکت] عطا کوي، تر دې چې بنده د "فَنَا فِی الله" درجے ته اورسي، بيا د هغه په اندامونو کښې خدائي طاقت راشي، هغه داسې کارونه کوي چې هغې ته عقل نه رسي، هغه بنده د الله پاك د صِفَاتو مَظهَر [يعنې ښکاره نښه] جوړ شي، بيا د هٔغه بنده دا شان شي چې ☆ ليدل خو په خپلو سترګو کوي خو د هغه په سترګو کښې د الله نور جلوه ګر وي، لِهٰذا هغه نِزدې هم ويني او لرې هم ويني، ښکاره هم ويني او پټ هم ويني، ☆ بنده اوريدل خو په خپلو غوږونو کوي خو د هغه اوريدل د الله پاك د صِفَت "سَمِيْع" مظهر شي، يعنې هغه د لرې نه هم اوري او د نِزدې نه هم اوري، ☆ دغه شان هغه نيول په خپلو لاسونو کوي خو د هغه نيول د الله پاك د صِفَت "بَطْش" (يعنې ګرِفت کولو د صِفَت) مَظهر جوړ شي، يعنې د هغه په لاسو

---

[1]...بخارى، كتابُ:الرِّقَاق، بابُ:التَّوَاضُع، صفحه:1597، حديث:6502۔

[2]...موسُوعه اِبْنِ ابى دُنيا، رساله: الاَوْلياء، جلد:2، صفحه:399، حديث:45۔

کښې ډېر طاقت وي، ☆ هغه تلل په خپلو ښپو کوي خو د هغه په ښپو کښې خدائي طاقت کېښودے شي، يعنې په لږ وخت کښې د يو ځائے نه بل ځائے ته رسي، ☆ هغه په خپل زړه کښې سوچ فِکر کوي خو د هغه په سوچ او پوهه کښې خدائي طاقت کېښودے شي، يعنې **الله** پاك هغه ته داسې سوچ او فِکر ورکوي کوم چې د عامو خلقو په وهم و ګمان کښې هُم نه وي، ☆ هغه وينا په خپله ژبه کوي خو په وينا کښې ئې خدائي طاقت کېښودے شي، يعنې خبره دلته کوي خو **الله** پاك ئې آواز د لرې پورې رَسَوي، په دې وجه **الله** پاك د خپل داسې بنده دُعاګانې قبلوي او سوالونه ئې پورا کوي.

زمونږ خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قيامته پورې واقعات په خپلو سترګو مبارکو ليدلي دي، حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام په کِنعان کښې تشريف فرما وو او د مصر نه راروانو ځامنو ئې چې د يوسُف عَلَيْهِ السَّلَام قميص ځان سره راغستے وو نو په کِنعان کښې ئې د هغې خوشبوئي محسوس کړه، حضرت سُليمان عَلَيْهِ السَّلَام د درې ميله په فاصله باندې د مېږي آواز واوريدو، د حضرت سُليمان عَلَيْهِ السَّلَام وزير آصف بِن برخيا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سترګو په رپ کښې د يمن نه د مَلکه بِلقِيس تخت مُلكِ شام ته حاضر کړو، **اَمِيرُ الْمُؤمِنِين** حضرت عمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْه په مدينه منوره کښې خطبه ورکوله او په [په سوونه ميلونه لرې] "نِهاوَند" کښې ئې د اسلامي لښکر حالات هم ليدل او هغوئي ته ئې خپل مبارك آواز هُم ور اورسولو [هغه آواز دا وو **يَا سَارِيَةُ الْجَبَل** يعنې عين د خطبے په حالت کښې چې کله حضرت عمر رَضِیَ اللهُ عَنْه اوليدل چې اسلامي لښکر په سخت حالت کښې دے يو طرف ته درياب او بل طرف ته غر دے، که لښکر درياب طرف ته کيدلو نو د شکست انديښنه وه په دې وجه حضرت عمر رَضِیَ اللهُ عَنْه د لښکر سپه سالار حضرت ساريه رَضِیَ اللهُ عَنْه ته د مدينے منورے نه آواز اوکړو: **يَا سَارِيَةُ الْجَبَل** يعنې اے ساريه غر طرف ته شه، حضرت ساريه رَضِیَ اللهُ عَنْه دا آواز واوريدلو او لښکر ته ئې حکم

اوکړو چې د غر طرف ته شئ او حمله اوکړئ]، اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلسُنَّت، مولانا شاه احمد رضا خان رَحمَةُاللهِ عَلَيه به د هرې پنجشنبے يعني زيارت په ورځ د بريلي شريف نه مدينے منورے ته حاضريدلو، دا ټول د هغه خُدائي طاقت نښې دي کوم چې الله پاك خپلو محبوبو بندګانو ته عطا کوي. (1)

مولانا رُوم رَحمَةُاللهِ عَلَيه فرمائي:

گُفتۂِ اُوْ گُفتۂِ اللّٰہ بُوَد | گَرچِہ اَز حُلقُومِ عَبْدُ اللّٰہ بُوَد

**يعني**: د الله پاك د محبوب بنده د خُلې نه وتلې خبره په حقيقت کښې د الله پاك فرمان وي-

[د پښتو مشهور صوفي شاعِرحضرت عبدالرحمان بابا رَحمَةُاللهِ عَلَيه د داسې بندګانو په باره کښې فرمائي:

چې په يو قدم تر عرشه پورې رسي | ما ليدلے دے رفتار د درويشانو]

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دا دے د هغه بنده شان چا سره چې الله پاك محبت کوي او الله پاك د کوم بنده سره محبت کوي، مونږه په شروع کښې حديثِ پاك واوريدلو، چې په هغې کښې خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې صفات بيان فرمائيلي دي چې په کوم بنده کښې دا [درې] صِفات موجود وي، الله پاك د هغه بنده سره محبت کوي.

**وړومبے صِفَت**: تقوٰی. **دويم صِفَت**: غِنا. **دريم صِفَت**: ګُمنامي.

راځئ چې د دې دريواړو صِفاتو وضاحت واورو:

## وړومبے خوښ شوے صِفَت: تقوٰی.

**وړومبے صِفَت**: تقوٰی دے. په دريمه سيپاره سوره آلِ عمرٰن، آيت نمبر76 کښې ارشاد دے:

---

[1]...مرآةُالمَنَاجيح، جلد:3، صفحه:490۔

فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۷۶﴾
(پاره3،سورۃآلِ عمران:76)

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان : بيشكه الله پرهيزګارو سره محبت كوي.

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تقوىٰ اصل بندګي ده، اِمام فَخرُ الدِّين رازي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په دې باره كښې يوه علمي نكته بيان كړي ده، ارشاد فرمائي: **الله** پاك په يو مقام كښې د قرآنِ كريم دا صِفَت بيان كړے دے چې قرآن د مُتَّقيانو د پاره هدايت دے. ارشاد دے:

فِيْهِ ۚ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ۙ﴿۲﴾
(پاره1،سورۃالبقره:2)

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: په دې كښې د ويره لرونكو د پاره هدايت دے.

بل ځائے كښې **الله** پاک اِرشاد فرمائي:

هُدًى لِّلنَّاسِ
(پاره2،سورۃالبقره:185)

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: چې د خلقو د پاره هدايت دے.

اِمام فَخرُ الدِّين رازي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: دا دواړه آيتونه چې راجمع كړے شي نو دا نتيجه را اوځي چې په حقيقت كښې د انسان ګڼړلو حقدار هغه بنده دے كوم چې مُتَّقــي دے، څوك چې مُتَّقــي نه دے هغه په حقيقت كښې د انسان ګڼړلو حقدار هم نه دے.(1)

دغه شان **الله** پاك په يو مقام كښې فرمائيلي دي چې قرآنِ كريم د ټولو انسانانو د پاره هدايت دے، په بل مقام كښې ئې فرمائيلي دي: قرآنِ كريم د مُتَّقيانو خلقو د پاره هدايت دے. دا دواړه آيتونه چې راجمع كړے شي نو مطلب دا جوړيږي چې كوم انسان

[1] ...تفسير كبير، پاره:1، سورهٔ بقره، زيرِ آيت:2، جلد:1، صفحه:268۔

دے هغه مُتَّقــي دے او چې څوک مُتَّقــي دے په حقیقت کښې هغه د انسان ګڼړلو حقدار دے.

علمائے کرامو د تقوٰی **ووه** [7] **درجے** بیان کړي دي، په دې کښې **اوَّله درجه** د **اِیمان** ده. یعني کوم کس چې د زړه د اخلاصه کَلِمه اولوستله، په اسلام کښې داخل شو، اګر چې د هغه تقوٰی د وړومبۍ درجے ده خو دا هم مُتَّقــي دے. خو هغه کس چا چې هډو کلمه نه ده وئیلي، کافِر دے، دا هغه دے په چا کښې چې د یوے ذرے همره تقوٰی هُم نشته، د ده مُتَعَلِّق **الله** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اُولٰٓىٕكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّؕ (پاره9،سوره اعراف:179) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: دا خلق د څناورو په شان دي بلکه د هغو نه هم بدتر دي . |

معلومه شوه....!!! په چا کښې چې د یوے ذرے همره تقوٰی هُم نشته هغه کافر دے، په ظاهره اګرچې هغه انسان دے، د هغه لاس، ښپے، سترګې، پوزه، غوږونه، ځُله ټول اندامونه شته، په شکل وصورت کښې د انسانانو په شان دے خو د دې حقدار نه دے چې هغه ته دِ انسان اُووئیلے شي بلکه په انساني شکل کښې څناور او د څناور نه هم بدتر دے ځکه چې څناور خو خپل مالِك و خالِق پیژني او هغه مني خو دا بدبخته د عقل لرلو باوُجود د خپل خالِق و مالِك انکار کوي. معلومه شوه چې مونږه د **الله** پاك بندګان یو او د بندګۍ اصل **تقوٰی** ده.

## تقوٰی اصل نیکي ده

**اے عاشقانِ رسول**! څنګه چې د بندګۍ اصل **تقوٰی** ده. دغه شان د نیکۍ اصل هم **تقوٰی** ده. **الله** پاك ارشاد فرمائي:

وَ لَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا وَ لٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى ۚ
(پاره2،سوره بقره:189)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او دا هيڅ نيکي نه ده چې کورونو ته د شا ديوال مات کړئ او راشئ، مګر اصل نيك خو پرهيزګاره کس وي.

په تفسير صِراطُ الْجِنان کښې دي: د جاهليت په زمانه کښې به د خلقو عادت دا وو چې کله به هغوئي د حج د پاره احرام اوتړلو او بيا به ئې کور ته د راتللو څه ضرورت پيښ شو نو د کور په دروازه به نه داخليدل بلکه د کور شاته ديوال به ئې مات کړو او په هغه ځائے به کور ته ننوتل، او دا کار به ئې نيکي ګڼړله، په دې باندې دا آيت نازل شو او **الله** پاك اوفرمائيل: دا څه نيکي نه ده چې تاسو کورونو ته د شا له طرفه راځئ، اصل نيکي خو تقوٰی ده. (1)

معلومه شوه چې په اصل کښې نيکو کاره کس تقوٰی والا دے او دا واضحه خبره ده: ☆ په حقيقت کښې په پابندئ سره لمُونځ هغه کس کوي د چا په زړه کښې چې د **الله** ويره وي، څومره خلق داسې دي چې فارغه وي نو لمُونځ کوي ګنې مَعاذَالله! لمُونځونه قَضا کوي، څومره داسې خلق دي چې جمات ته لمَانځه له راځي خو غيبتونه کوي، چُغلي کوي، د جمات بے ادبي کوي، په جمات کښې دنياوي خبرې کوي او بيرته ځان سره د ګناهونو پيټے په سر وړي، ☆ روژه هم په حقيقت کښې هغه کس نيسي د چا په زړه کښې چې تقوٰی وي، او ډير روژه دار داسې هُم وي چې په روژه کښې د وخت پاس کولو د پاره په فضولياتو کښې مصروفه وي يعنې د روژے نيولو باوُجود د ګناه کولو نه نه قلاريږي، ☆ حج په حقيقت کښې هم هغه کس کوي د چا په زړه کښې چې تقوٰی وي، خو ډير داسې حاجيان وي چې د طواف په دوران کښې هم سيلفيانې

1...صراط الجنان، پاره:1، سورۂ بقره، زيرِ آيت:189، جلد:1، صفحه:304۔

جوړوي [يعني ځان له ويډيوګانې جوړوي]، دغه شان صدقه و خيرات، د غريبانو مدد، خلقو سره نيك سلوك كول وغيره دا ټول نيك اعمال په حقيقت كښې هغه كس كولے شي د چا په زړه كښې چې تقوٰى وي، ګنې ډېر خلق داسې دي چې نيكۍ كوي او د رياكارۍ يا احسان زباتلو په وجه خپل ثواب ضائع كوي. **الغرض**: معلومه شوه چې په حقيقت كښې نيكوكار هغه دے د چا په زړه كښې چې تقوٰى ده.

حضرت اِبراهيم تيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه به د مرګ يادولو د پاره مقبرے ته ډېر زيات تلم، يوه شپه زه په مقبره كښې ووم چې خوب راغے او اوده شوم، يو خوب مې اوليدو چې: يو برسيره [كولاؤ] قبر دے او يو كس وائي: دا زنځير اونيسه او د ده په خُله كښې ئې داخل كړه او لاندې ئې ترينه اوباسه. په دې خبره هغه مړي اووئيل: يَا **اللّٰه**! آيا ما به قرآن نه لوستلو؟ آيا ما به ستا د حُرمت والا كور [يعنې د خانه كعبے] حج نه كولو؟ بيا دغه شان هغه پرله پسې خپله يوه يوه نيكي ور اُوشميرله، يو ويوونكي اووئيل: تا به د خلقو په مخكښې دا اعمال كول خو چې كله به ته يواځې شوې نو د نافرمانۍ په ذريعه به دِ زما سره اعلانِ جنګ كولو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✽✽✽ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د آخِرت تقسيم په تقوٰى شوے دے

د تَصَوُّف په مشهور كتاب "رِسَاله **قُشَيْرِيَه**" كښې دي چې حضرت شيخ كَتَّانـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دُنيا تقسيم په ازميښت شوے دے او د آخرت تقسيم په تقوٰى شوے دے.[(1)] يعنې په دُنيا كښې عِزّت، مرتبه، مقام، ترقـي او كاميابي هغه چا ته

---

[1] ...رساله قشيريه، تقویٰ کا بيان، صفحه:219۔

نصيب کيږي څوك چې زيات محنت کوي او په آخرت کښې به اوچته درجه، زيات عِزَّت او زيات مقام و مرتبه هغه چا ته نصيب کيږي څوک چې زيات تقوٰی والا وي.

په سيپاره12، سوره هُود، آيت:49 کښې ارشاد دے:

اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۹﴾

(پاره12،سورہ هُود:49)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بيشکه ښه انجام د پرهيزګارانو د پاره دے.

په يو بل مقام کښې الله پاك د جَنَّت مُتَعَلِّق ارشاد فرمائي:

اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۳﴾

(پاره4،سورہ آلِ عِمران:133)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هغه د پرهيزګارانو د پاره تيار کړے شوے دے.

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې الله پاك جَنَّت د مُتَّقيانو د پاره جوړ کړے دے، څوك چې زيات مُتَّقي وي، هغه ته به په جنَّت کښې زيات درجات نصيب کيږي، هغه ته به زيات نِعمتونه ميلاويږي.

## د تقوٰی نور فضائل و فوائد

حُجَّةُ الْاِسْلَام، امام محمد بِن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تقوٰی فوائد بيانوي، فرمائي: ☆ تقوٰی والا هغه دي چې د هغوئي الله پاك تعريف کوي، ☆ تقوٰی والؤ ته د الله پاك له طرفه خصوصي تائيد او مدد نصيب کيږي ☆د تقویٰ والؤ الله پاک د هغوئي د دُشمنانو نه حفاظت فرمائي ☆تقوٰی والؤ ته د هغوئي د تقوٰی په برکت رزقِ حلال نصيب کيږي ☆ د تقوٰی په برکت د اعمالو اِصلاح کيږي ☆ د تقوٰی په برکت ګناهونه مُعاف کيږي ☆ د تقوٰی په برکت نيکئ قبليږي ☆ تقوٰی والا د آخرت د سختو نه محفوظه وي ☆

تقوىٰ والا د **اللّٰه** پاك محبوب بندګان دي ☆ تقوىٰ والا د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې زيات عِزَّت والا دي☆ تقوىٰ والؤ ته د مرګ په وخت کښې د **اللّٰه** پاك ديدار نصيب کيږي ☆ تقوىٰ والؤ ته د مرګ په وخت کښې د عذابِ آخرت نه د خلاصي زيرے نصيب کيږي ☆ تقوىٰ والا به د جَهَنَّم نه محفوظه وي ☆ تقوىٰ والا به هميشه هميشه په جَنَّت کښې اوسي.(1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## تقوىٰ څه څيز دے؟

يوه ورځ دويم خليفه، **اَمِيرُ الْمُؤمِنِين** حضرت عمرِ فاروقِ اعظم رَضِىَ اللّٰه عَنْه حضرت کعبُ الاحبار رَضِىَ اللّٰه عَنْه ته اوفرمائيل: اے **کَعْب!** تقوىٰ څه څيز دے؟ حضرت کعبُ الاحبار رَضِىَ اللّٰه عَنْه عرض اوکړو: اے **اَمِيرُ الْمُؤمِنِين!** آيا تاسو په داسې لاره تير شوي ئې په کومه لاره کښې چې د ازغو جاخې وي؟ **اَمِيرُ الْمُؤمِنِين** حضرت عمرِ فاروقِ اعظم رَضِىَ اللّٰه عَنْه اوفرمائيل: آو، زه په داسې لاره تير شوے يم. حضرت کعبُ الاحبار رَضِىَ اللّٰه عَنْه عرض اوکړو: بيا تاسو په داسې لاره څنګه تيريږئ؟ هغوئي اوفرمائيل: زه ځان د ازغو نه ساتم او خپلې جامې راغونډووم. حضرت کعبُ الاحبار رَضِىَ اللّٰه عَنْه عرض اوکړو: **ذٰلِكَ التَّقْوٰى** اے **اَمِيرُ الْمُؤمِنِين!** بس هُم دا تقوىٰ ده.(2)

مطلب دا دے چې مونږه دې دُنيا ته راغلو، **اللّٰه** پاك مونږ ته پاك روح، پاك زړه را عطا کړو، اوس مونږه د دې دُنيا نه آخرت طرف ته روان يو، يعني دا دُنيا يوه لاره ده او

---

[1]...منهاج العابدين، صفحه:144تا148۔

[2]...تفسيرِ بغوى، پاره:1، سورهٔ بقره، زيرِ آيت:2، جلد:1، صفحه:13۔

په دې لاره کښې د ازغو جاخې دي، يو طرف ته شيطان دے، يو طرف ته نفس دے، يوه طرف ته د دُنيا محبت دے، بل طرف ته د مال محبت دے، حَسَد، بُغض، کينه، خواهشات وغيره په زرګاؤ ګناهونه او د ګناهونو زرګاؤ لارې دي، دا ټول د ازغو جاخې دي، مونږ ته د ژوند په دې سفر کښې خپل پاك روح او خپل زړه د دې ازغو د جاخو (يعنې ګناهونو) نه بچ کول او تيريدل دي، بس د هُم دې څيز نوم تقوٰی دے.

## د حضرت بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه تقوٰی

حضرت بايزيد بسطامي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه يو ځل په سفر وو، په لاره کښې ئې په يو ځائے کښې قيام اوکړو، مريدان هم ورسره وو، حضرت بايزيد بسطامي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه خپل قيمص مبارك اُووِينځلو، مريدانو عرض اوکړو: جناب! دا قميص چې په دې مخامخ ديوال خور کړے شي چې اوچ شي. اوئې فرمائيل: نه! دا چې د چا ديوال دے مونږ د هغوئې نه اجازت نه دے اخستے. مريدانو عرض اوکړو: بيا د دې ونې په خاخ به ئې زوړند کړو؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: د ونې په خاخونو باندې مرغۍ کښيني، مونږ د مرغو نه د هغوئې د ناستې ځايونه نه شو اخستے. مريدانو عرض اوکړو: جناب! بيا به مونږ دا قميص په وښو [ګيا] د پاسه خور کړو؟ هغوئې ارشاد اوفرمائيلو: نه، واښه د ځناورو خوراك دے، مونږه د هغوئې خوراك د هغوئې نه نه شو پټولے. آخر حضرت بايزيد بسطامي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه خپل قميص مبارك په خپله ملا واچولو او خپله ملا ئې لمَر طرف ته کړه، تر دې پورې چې قميص اوچ شو.[(1)]

سُبۡحٰنَ الله! دا ده تقوٰی....!!! چې مونږه په دې دُنيا کښې کوم کار هُم کوو نو پکار ده چې ډېر په احتياط سره، په سوچ او فِکر سره ئې اوکړو، چې چرته را نه ګناه يا د چا

---

[1]...رساله قشيريه، تقوىٰ کا بيان، صفحه: 221۔

حق تلفي اونشي، څنګه چې مونږه کله د خپلې خوښې نوې او قيمتي جامے اغوستي وي او باران راباندې راشي او لاره هُم کچه وي، او په لاره کښې ختې جوړې شي نو مونږه خپلې جامے راغونډې کړو او په هغه ځائے ډېر په احتياط تيريږو چې چرته ښپه مو اونه خوَيِيږي، جامے مو په ختو ګنده نه شي، دغسې د ژوند په دې سفر کښې مونږ ته هر کار په احتياط او سوچ فِکر سره کول پکار دي، د هر کار نه مخکښې ښه سوچ ااو فکر کول پکار دي چې چرته په دې کار کښې خو به د ګناه انديښنه نه وي، که دُکان جوړول وي،که يو کاروبار شروع کول وي، که په نوکرئ لګيدل وي، که واده کول وي، که په سفر تلل وي، که څه اخستل يا خرڅول وي، غرض هر يو کار کول وي نو پورا په احتياط سره او سوچ فکر سره او شرعي رهنمائي اخستلو سره هغه کار کول پکار دي د پاره د دې چې مونږه د ګناهونو نه پوره پوره بچ کيدلو کښې کامياب شو.

## تقوٰی به څنګه نصيب شي؟

**اے عاشقانِ رسول!** پاتې شوه دا خبره چې مونږ ته به تقوٰی څنګه حاصله شي؟ د دې د پاره عرض دے چې د تقوٰی اصل د ګناهونو نه ځان ساتل دي، او د ګناهونو نه بچ کيدلو د پاره دوه څيزونه ضروري دي: **اوَّل** د ګناهونو معلومات [يعني چې کوم کار د ګناه دے، کوم کار د ګناه نه دے] . **دويم** په زړه کښې د ګناهونو نه نفرت.

که بنده ته د ګناهونو معلومات نه وي نو ښکاره خبره ده چې هغه به د ګناهونو نه بچ نه شي. او که د ګناهونو معلومات ورته وي خو په زړه کښې ئې د ګناهونو نفرت نه وي نو بيا هم د ګناهونو نه بچ کيدل ډېر ګران دي.

اوس سوال دا دے چې دا دواړه څيزونه به څنګه حاصل شي؟ د دې د پاره عرض دے چې د ګناهونو معلومات نن صبا په ډيره آسانئ سره حاصليدے شي، مثلاً ☆ هره

هفته [د اتوار په شپه د ماسخُتن د لمَانځه نه پس] شيخ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری، ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ مدني مُذاکره فرمائي، په دې کښې د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ نه په مختلفو موضوعاتو باندې سوالونه کوي او هغوئي د خپل علم او تجربے په رنړا کښې د هغې جوابونه ورکوي او باريکې علمي نُکتے هم بيانوي. يعني **"مدني مُذاکره"** د علم حاصلولو د پاره هفته وار يو کلاس دے او دا کلاس د دورِ حاضر عظيم روحاني و علمي شخصيت، شيخ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ پړهاووي، تاسو په پابندئ سره په مَدَني مُذاکره کښې د شرکت کولو عادت جوړ کړئ، ډائري، قلم وغيره ځان سره ساتئ، شيخ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ چې کوم مدني ګلونه ارشاد فرمائي، ليکئ ئې او د ځان سره ئې محفوظه کوئ، دغه شان به تاسو ته په قلاره قلاره د ګناهونو ډېر زيات معلومات حاصل شي. ☆ دغه شان د مکتبةُ المَدينه ډېر کتابونه دي، مثلاً **"جہنم میں لے جانے والے اعمال"** دا په دوو جلدونو مشتمل کتاب دے. بل کتاب دے **"گناہوں کے عذابات"** دا مختصر جامع کتاب دے، په دې کښې د 52 ګناهونو ذِکر دے، په دې کښې د هر ګناه تعريف، د دې مُتَعَلِّق قرآني آيات و احاديث، د هغه ګناه حکم، په هغه ګناه کښې د اخته کيدلو اسباب او د هغې نه د بچ کيدلو طريقے هم ليك دي. دغه شان د مکتبةُ المَدينه نور کتابونه مثلاً ☆ 76 **کبیرہ گُناہ** ☆ **گناہوں کی نحوست** ☆ **نیکیوں کی جزائیں اور گُناہوں کی سزائیں** ☆ **مکاشفۃ القلوب وغیرہ**، دا کتابونه د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه حاصل کړئ يا د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ ***www.dawateislami.net*** نه ئې ډاؤن لوډ کړئ او د دې د لوستلو خپل هدف مقرر کړئ.

د ګناهونو د معلوماتو يوه طريقه دا هم ده چې د دارُ الافتاءِ اهلسُنَّت نمبر ځان سره اوليکئ، چې کله هم څه اهم کار شروع کوئ، يا مو په کومه مُعامَله کښې د ګناه کيدو شك شي يا مو په يو غير شرعي کار کښې د اخته کيدلو انديښنه وي نو دارُ الافتاءِ اهلسُنَّت سره يا يو عاشقِ رسول مفتـي صاحب سره رابطه کوئ. **اَلْحَمْدُلِلّٰه**! د دعوتِ اسلامي آئي. ټـی ډيپارټمنټ د دارُ الافتاءِ اهلسُنَّت موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے. په خپل سمارټ فون باندې دا ايپلي کيشن انستال کړئ، کله کله په هغې کښې د ورکړو شوو فتوو مُطالَعه کوئ، **اِنْ شَآءَ اللّٰه** ډېر زيات علمِ دين به زده کول درنصيب شي او ورسره ورسره به د ګناهونو معلومات هُم درحاصل شي.

پاتې شوه "په زړه کښې د ګناهونو نه نفرت" دا به څنګه نصيب شي؟ د دې د پاره امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يوه زبردسته نُسخه بيان کړي ده: هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د تقوٰی حاصلولو صورت دا دے چې د پينځَـۀ اندامونو خاص نګراني اوکړے شي. هغه پينځه اندامونه دا دي: (1) سترګې (2) غوږونه (3) ژبه (4) خيټه او (5) زړه[1]

يعني سترګې د ګناهونو مثلاً فلمونو ډرامو وغيره نه بچ ساتل پکـار دي، غوږونه د ګناهونو مثلاً سندرو باجو، غِيبَت او د بے حيائي د خبرو اوريدلو نه ساتل پکار دي، ژبه د غيبَت، چغلئ، دروغو وغيره وئيلو نه ساتئ، خيټه د حرامو د يوې لقمے نه هُم بچ ساتئ، دغه شان زړه د حَسَد، تَکَبُّر، رياکارئ وغيره نه بچ ساتئ. **اِنْ شَآءَ اللّٰه** په قلاره قلاره به مو زړه صفا شي، د زړه خِيرے به مو لرې شي او په زړه کښې به مو د ګناهونو نه نفرت پيدا شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...منهاج العابدين، صفحه:162۔

## دويم خوښ شوے صِفَت: غِنا

د **اللّٰه** پاک د محبوبو بندګانو دويم وَصف کوم چې خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيان فرمائيلے دے: هغه دے غِنا، اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِیَّ الْغَنِیَّ بيشکه **اللّٰه** پاك تقوٰى والا، غني بنده سره محبت کوي.

د لفظِ غَنِـی معنٰى ده: بےنيازي او دا د **اللّٰه** پاك صِفَت دے. په قرآنِ کريم کښې دي:

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اَنۡتُمُ الۡفُقَرَآءُ اِلَى اللّٰهِ ۚ وَ اللّٰهُ هُوَ الۡغَنِىُّ الۡحَمِيۡدُ ﴿۱۵﴾ (پاره22،سورہ فاطر:15)

**مفهومِ ترجمه کنزُالعِرفان:** اے خلقو! تاسو ټول د اللّٰه محتاجه ئې او صرف **اللّٰه** بے نيازه دے د ټولو صفتونو والا.

نو مونږ ټول د **اللّٰه** پاك محتاجه يو او **اللّٰه** پاك غني او بےنيازه دے، لِهٰذا دا د غِنا صِفَت يعني مکمل طور باندې بے نيازي انسان ته نصيب کيدل ناممکن دي.

البته هغه غِنا کوم چې د بنده صِفَت دے، دا په اصل کښې غِنا نه ده بلکه فَقر دے. امام غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د فقر شپږ درجے بيان کړي دي، په دې کښې چې د فقر کومه اعلٰى درجه ده، هغې ته غِنا وائي او د دې مطلب دا دے چې بنده د دُنيا د هر څيز نه، مال و دولت وغيره نه بے نيازه شي. لِهٰذا هغه بنده د چا په نِزد چې د مال و دولت هيڅ حيثيت نه وي، مال و دولت ميلايدل يا نه ميلاويدل د هغه په نِزد برابر وي، داسې کس ته غَنِـي وائي. (1)

منقول دي چې د **اللّٰه** پاك نبـي حضرت عيسٰى عَلَيۡهِ السَّلَام نه د هغوئ حَوَّاريانو تپوس

[1] ...احياءُ العلوم (مترجم)، جلد:4، صفحه:564، خلاصةً۔

اوکړو: اے روحُ الله عَلَيۡهِ السَّلام! څه وجه ده چې تاسو په اوبو د پاسه داسې ګرځئ لکه مونږه چې په زمکه ګرځو خو په مونږه کښې داسې طاقت نشته؟ حضرت عيسٰی عَلَيۡهِ السَّلام حَوَّاريانو ته اوفرمائيل: د درهم و دينار (يعنې سرو زرو او سپينو زرو) په باره کښې ستاسو څه رائے ده؟ حَوَّاريانو عرض اوکړو: ډېر قيمتي څيزونه دي. هغوئي ارشاد اوفرمائيل: د شګو او کاڼرو په باره کښې تاسو څه وائې؟ هغوئي عرض اوکړو: دا بےقيمته څيزونه دي. حضرت عيسٰی عَلَيۡهِ السَّلام اوفرمائيل: چې کله ستاسو په نِزد دا دواړه څيزونه برابر شي نو په تاسو کښې به هم په اوبو د پاسه د ګرځيدلو طاقت پيدا شي.

سُبۡحٰنَ الله! دا ده اصل غِنا او هم دا هغه وَصف دے چې په کوم بنده کښې دا وَصف پيدا شي **الله** پاك هغه بنده سره محبت کوي.

اوس به دا غِنا به مونږ ته څنګه حاصله شي؟ د دې يوه طريقه دا ده چې بنده د **الله** پاك په خالق و رازِق او مالِك کيدو باندې د زړه نه مطمئن شي. په حديثِ پاك کښې دي: څوك چې د ټولو نه لوئ غَنِــي جوړيدل غواړي، هغه له پکار دي چې د ځان سره موجود مال و اسباب په ځائے د **الله** پاك د قدرت په خزانه باندې زياته بهروسه [اِعتِماد] اوکړي.

معلومه شوه چې که مونږه د **الله** پاك د قدرت په خزانو باندې کامله بهروسه اوکړو نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! مونږ ته به د غِنا دولت نصيب شي. که زمونږ سره مال وي نو هم په دې بهروسه نه ده پکار بلکه بهروسه په **الله** پاك پکار ده، د مال څه بهروسه، دا که نن شته نو کيدے شي چې صبا به نه وي. ☆ دغه شان که په چا غريبي راغله، نو هيڅ خبره نه ده، الله مالِك دے☆ که کاروبار ئې اودريدو نو هيڅ خبره نه ده، الله مالِك دے ☆ که په کور کښې د خوراك څه نه وي، بچي مو اوږي وي نو هيڅ خبره نه ده، الله

مالِك دے ☆ كه څه پرېشاني راغله نو هيڅ خبره نه ده، الله مالِك دے ☆ كه نوكري نه ميلاوېږي نو هيڅ خبره نه ده، الله مالِك دے ، د بنده حالات كه هر څنګه وي خو چې د هغه ذِهن دا جوړ شي چې **الله** پاك زما مالِك دے، **الله** پاك زما خالق دے، **الله** پاك زما رازق دے، نو چې كله زمونږ دا پوخ ذِهن جوړ شي نوإِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيْم!زمونږ په زړه كښې به د دُنيا نه، دُنياوي مال و دولت نه، او دُنيادارو نه د غِنا يعني بے نيازئ صِفَت پيدا شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دريم خوښ صِفَت : خِفا (يعني ګمنامي)

د **الله** پاك د محبوبو بندګانو **دريم وَصف** كوم چې په حديثِ پاك كښې بيان شوے دے هغه **خِفا** يعني ګمنامي ده. يعني هغه كس چې په خلقو كښې خپل شُهرت نه غواړي، هره نيكي پټه كوي، ځان پټ ساتي، داسې كس هم د **الله** پاك محبوب او خوښ دے.

په يو حديثِ پاك كښې د **الله** پاک آخري نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مومِن بنده شپږ اوصاف بيان فرمائيلي دي او فرمائي: اِنَّ اَغْبَطَ اَوْلِيَائِیْ زما قابِلِ رَشك دوست هغه دے [يعني هغه كس چې خلق ورته پسخيږي] (په كومو كښې چې شپږ اوصاف موجود وي) بيا ئې په هغه شپږو اوصافو كښې يو وصف دا بيان كړو: چې هغه به په خلقو كښې پټ وي، چې خلق د هغه طرف ته په ګوتو اشارے نه كوي.(1)

د هُم دې مفهوم د يو حديثِ پاك لاندې حكيمُ الاُمَّت، حضرت مفتى احمد يار خان

[1]...ترمذی، کتابُ الزُّہد، صفحہ:561، حدیث:2347۔

نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يعنې چې په دُنياوي كمالاتو، دولت، صحت، طاقت كښې، او دغسې چې په ديني كمالاتو مثلاً علم، عبادت، رياضت كښې د هغه شُهرت اونشي ځكه چې د عوامو د پاره شهرت ضرور خطرناك دے، د دې نه عام طور په زړه كښې غرور او تَكَبُّر پيدا كيږى. د داسې شهرت نه پټ اوسيدل ښه دي. بعضې بندګان داسې هُم دي چې د هغوئي په زړونو كښې د شهرت نه غرور [تَكَبُّر] نه پيدا كيږي، هغوئي ته معلومه وي چې نيك نامي او بدنامي د **اللّٰه** پاك په قبضه كښې ده، [بله دا چې شُهرت په دې وجه هُم خطرناک وي چې بعضې وخت د معمولي غلط فهمئ يا د چا د شرارت په وجه داسې كس نه د خلقو په زړونو كښې نفرت پيدا شي، بس خلق خو خلق دي] د خلقو هيڅ اعتبار نشته، دوئي يو ساعت د زنده باد نعرے لګوي، او بيا لږ ساعت پس [د هُم هغه كس خلاف] د مُرده باد نعرے لګوي. (1)

**اے عاشقانِ رسول!** د چا په زړه كښې چې د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت راشي، هغه د **اللّٰه** پاك محبوب جوړيږي، نو كوم بنده چې خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل دوست جوړ كړي د هغه عظمت و شان به څومره زيات وي، د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قابِلِ رشك دوست څوك دے؟ هغه كس چې ګُمنامي [يعني ځان پټ ساتل] خوښوي.

اوس يو طرف ته خو د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا فرمان دے او بل طرف ته كه مونږ خپل حالت ته اوګورو نو افسوس! نن صبا خلق د معمولي شُهرت حاصلولو د پاره خپلې سيلفياني جوړوي او د سوشل ميډيا په ذريعه د شُهرت حاصلولو په كوششونو كښې لګيا وي، فضول او د ګناهونو نه ډكې ويډيو ګانې جوړوي او د خپل ځان مشهور كولو

[1]...مرآة المناجيح، جلد:7، صفحه:136۔

په چکر کښې وي. هائے افسوس! که مونږه جامے اخلو نو هُم کوشش مو دا وي چې داسې جامے واخلم چې څوک ئې اووينې چې واه واه اوکړي، که خوشبو اخلو نو هُم په زړه کښې مو دا وي چې په کومه کوڅه تيريږم چې ټوله کوڅه خوشبوداره شي، افسوس! مونږه پيزار اخستلو او خوښولو کښې هُم ډير زيات وخت ضائع کوو د پاره د دې چې څوک ئې اُووِينې چې ورته حيران شي. د واده په موقع خلقو ته ځان ښودل، او په اخترونو کښې ځان ښودل.کاش چې! د شهرت د دې شوق نه مونږ ته نجات ملاو شي، کاش چې! مونږه د **الله** پاك رضا حاصلوونڪي جوړ شو، کاش چې! زمونږ ژوند د **الله** پاك د راضي کولو په کارونو کښې تير شي. حديثِ پاك کښې دي: دوه اوږې شرمخان چې د چيلو په رمه کښې څومره تباهي کوي، د مال او شهرت محبت د انسان په دين کښې د هغې نه هُم زياته تباهي راولي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دلته يوه بله اهمه نکته ده، هغه دا چې دا حديثِ پاك، د کوم د وضاحت اوريدلو چې مونږه سعادت حاصلوو، په دې کښې خو ارشاد فرمائيلے شوي دي چې **الله** پاك ګمنامي خوښوونڪي بنده سره محبت کوي، اوس يو بل حديثِ پاك واورئ! د حضرت ابوهُريره رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روايت دے، د **الله** پاك آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بيشکه **الله** پاك چې کله د خپل کوم بنده سره محبت فرمائي نو جبريلِ اَمين عَلَيْهِ السَّلَام ته فرمائي: اے جبريل! زه د فلانڪي بنده سره محبت کووم، ته هم د هغه سره محبت اوکړه، نو جبريل عَلَيْهِ السَّلَام هُم د هغه سره محبت کول شروع کړي، بيا په آسمان کښې دا اعلان کيږي چې بيشکه **الله** پاك د فلانڪي بنده سره محبت کوي، اے فرښتو! تاسو ټول هم د هغه سره محبت اوکړئ...!! پس د آسمان

تولې فرښتې هم د هغه بنده سره محبت کول شروع کړي.[1] او د تِرمذي شریف په روایت کښې دي: بیا د زمکې د خلقو په زړونو کښې د هغه بنده محبت لازم کړے شي.[2]

معلومه شوه چې **الله** پاك ګمنامي خوښوونکي سره محبت کوي خو خپل محبوب بنده ګمنامه [یعني ورک] نه پرېږدي.

اوګورئ! حضرت اُویس قرني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې ګمنامي اختیار کړه نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مدینه منوره کښې د صحابه کرامو او خُلفائے راشدین عَلَيْهِمُ الرِّضْوان په وړاندې د حضرت اُوَیس قرني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شان و عظمَت بیان کړو، حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ګمنامي خوښوونکے وو، **الله** پاك د هغوئ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عِزَّت و شُهرت ته داسې همیشګي عطا کړه چې نن د څوارلسو صدو تیریدو نه پس هم چې څوك د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نوم واخلي نو د ادب نه سر ټیټ کړي، حضرت داتا ګنج بخش علي هجویري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شهرت غوښتلو نه پاك وو خو اوګورئ نن د هغوئ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دربار شریف کښې د خلقو څومره ګڼه وي، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل کور کښې د قلم په ذریعه د دِین خدمت اوکړو، د شُهرت حاصلولو د شوق نه به لرې لرې اوسیدلو خو اوګورئ چې **الله** پاك مسلكِ رضا په ټوله دُنیا کښې عام کړو.

معلومه شوه چې کوم بنده شهرت غواړي، د دُنیا عارضي او فاني شهرت پسې منډې وهي، هغه ته که شُهرت میلاو هم شي نو عارضي وي، آخر کار یوه ورځ هغه قبر ته کوز شي او ورسره ورسره د هغه شهرت ختم شي، او څوك چې د شهرت طلب ګار نه وي بلکه صرف د خپل خالق و مولیٰ رضا غواړي، هغه که په ظاهره د دُنیا نه پرده اوکړي نو

---

[1]…بخاری، کتاب: بَدْءُ الخلق، باب: ذِکرِ ملائکه، صفحه:824، حدیث:3209۔

[2]…ترمذی، کتاب: تفسیر القرآن، باب: سورة مریم، صفحه:730، حدیث:3161۔

هُم د هغه شهرت، عِزَّت او محبت په زړونو کښې هغه شان برقرار اوسي. صوفياء فرمائي: مَنۡ طَلَبَ الۡمَوۡلَا فَلَهُ الۡكُلُّ ځوك چې د خپل مالِك رضا غواړي، **الله** پاك هغه ته هر څه عطا كوي.

خو دلته د يو باريك شيطاني چال نه بچ كيدل هم ضروري دي، امام غزالي فرمائي: بعضې وخت شيطان مخلص دوست جوړ شي او بنده ته وسوسه وركوي، او ورته وائي: اے بنده! ته په پټه نيك اعمال كوه، **الله** پاك به پخپله ستا اعمال په خلقو كښې مشهور كړي: امام غزالي فرمائي: دا هم د شيطان يو بارِيک چال دے، په دې طريقه شيطان بنده په رياكارئ كښې اخته كړي، چا ته چې داسې وسوسه راشي، هغه له پكار دي چې دا وسوسه ناكامه كړي او اووائي چې زه د شهرت طلب ګار نه يم، زه نه غواړم چې زما نيكئ په عوامو كښې مشهورې شي، زه خو بس د **الله** پاك رضا غواړم، كه هغه زما نيك اعمال ښكاره كوي او كه نه، دا د هغه خوښه ده.[1]

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** د نن پورا بيان خُلاصه دا ده چې: بيشكه **الله** پاك تقوٰی والا او غني يعنې د دُنيا او دُنياوي مال نه بےپرواه او د ګمنامئ خواهش لرلو والا بنده سره محبت كوي. **الله** پاك دِ مونږ ته هم دا درېواړه اوصاف را نصيب شي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِين** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! ✿✿✿ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دولس مدني كارونو كښې يو مدني كار "مدرسة المَدينه بالغان"

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** د تقوٰی حاصلولو، د دُنيا محبت د زړه نه ويستلو او د

---

[1]...منهاج العابدين، صفحه: 136۔

اللّٰه پاک د رضا والا کارونو کښې مصروفه اوسيدلو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته شئ او دولسو ديني کارونو کښې حصه واخلئ. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! په زړه کښې به مو د اللّٰه پاك او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د محبت شمع روښانه شي. په ژوند کښې به مو د نيکو سپرلي راشي. د دعوتِ اسلامي 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار "مدرسةُ المَدينه بالغان" هم دے، مَدرَسةُ الْمَدينه (بالغان) د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې اکثر د ماسخُتن د لـمانځه نه پس هره ورځ بِالْخُصُوص په جُماتونو او مدرسو او مختلفو ځايونو کښې د مختصر وخت د پاره لګي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه مدرسةُ المَدينه بالغان کښې د شريك کيدلو ډيرې فائدے او برکتونه دي. ☆مدرسةُ المَدينه بالغان د قرآن مجيد صحيح لوستلو يوه ذريعه ده. ☆مدرسةُ المَدينه بالغان د اوداسه، لـمانځه او غسل ضروري احکامو زده کولو بهترينه ذريعه ده. ☆مدرسةُ المَدينه بالغان کښې د حاضريدلو په برکت ښه صحبت نصيب کيږي. ☆ د مدرسةُ المَدينه بالغان په برکت د قرآنِ کريم لوستلو سعادت نصيب کيږي. ☆ د مدرسةُ المَدينه بالغان په برکت د دِين دولت نصيب کيږي. ☆ **د مدرسةُ المَدينه بالغان** په برکت 72 نيکو اعمالو باندې د عمل کولو جذبه نصيب کيږي. تاسو هم په مدرسةُ المَدينه بالغان کښې شرکت کوئ او که نورو ته د سبق وئيلو قابليت لرئ نو نورو ته د لوستلو نيت اوکړئ.

## د فيشن پرست په ژوند کښې سپرلے راغلو

د حيدر آباد د علاقے آفندي ټاؤن د اوسيدونکي يو اسلامي ورور بيان دے: زه يو فيشن پرست ځلمے ووم، د دُنيا په مستئ کښې به ورك ووم، د خپل آخرت د انجام نه غافِله ژوند به مې تيرولو، بيا د ګناهونو نه ډك ژوند کښې مې سپرلے داسې راغے چې ما ته په **مدرسةُ المَدينه بالغان** کښې د داخله اخستلو سعادت رانصيب شو، زما د خوش قسمتئ

سفر شروع شو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ د **مدرسةُ المَدينه بالغان** په برکت زما تور زړه د خوفِ خُدا او عشقِ مصطفٰی په وجه روښانه شو، ما ته د قرآنِ کريم د تعليم سره سره په سُنَّتونو باندې د عمل جذبه هم ميلاو شو او هفته واره اجتماع کښې د شريك کيدلو سعادت هم رانصيب شو. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** په **مدرسةُ المَدينه بالغان** کښې د سبق لوستلو په برکت زما په ژوند کښې سپرلے راغلو او د فيشن او مستئ نه را ته خلاصے نصيب شو.

ترا شکر مولیٰ دیا مدنی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مدنی ماحول
پلا کر مئے عشق دے گا بنا یہ | تمھیں عاشقِ مصطفےٰ مدنی ماحول [1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دري ځله اِرشاد اوفرمائيلو: "زما په نائب دِ د **الله** پاك رحمت وي، عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي. [2]

سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام کروں کاش! | تُو پیکرِ سُنَّت مجھے اللہ بنا دے [3]

## عمامه شريف ترل سُنَّتِ مصطفٰی دي

دوه فرامينِ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (1) عِمامه تړئ! ستاسو حِلم به

---

[1]...وسائل بخشش، صفحه:648647۔
[2]...جامع بيانِ عِلْم، بَابُ:عِلْم کے فضائل، جلد: 1صفحه:201، حديث:220۔
[3]...وسائل بخشش، صفحه:118۔

زياتيږي[1] (2) عمامے سره دوه رکعته د بے عمامه اويا رکعتو نه افضل دي.[2]

**اے عاشقانِ رسول!** عمامه شريف تړل سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي ❁ زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هميشه په سر مبارك په ټوپئ باندې عمامه تړله ❁ په سفر او کور کښې به ئې هم په سرِ اقدس عمامه تړله ❁ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په عمامه شريفه کښې شمله پريښودله، کله به په يوه اوګه ، کله به د دواړو اوګو تر مينځه پرته وه ❁ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په مختلفو موقعو د مختلف رنګ عمامه شريفه استعمالوله، خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه سپينه، توره، شنه، زعفرانې، حِرقانې، زيړه، کرښو والا او د سور رنګ عمامه تړل ثابت دي.

د عمامے تړلو فضائل او د دې په باره کښې تفصيلې معلوماتو د پاره د مکتبةُ المَدينه کتاب "*عمامہ کے فضائل*" مطالَعه کړئ **اللّٰه** پاك دِ مونږ ته هم د سُنَّت په نيت هميشه د عمامے تړلو توفيق راعطا کړي. اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

[1] ...مستدرک، کتاب:اللباس، جلد:5، صفحه:272، حديث:7488۔
[2] ...فردوس الاخبار، جلد:2، صفحه:265، حديث:3233۔

الْحَبِيْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَ سَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځۍ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

---

1...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2...القول البديع، الباب الثانی، ص٢٧٧

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْھُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵